# واده
# ستاسو
# انتخاب دی.

په حقایقو پوه شئ. خپل حقوق وپیژنئ!

TAHIRIH JUSTICE CENTER®
**Forced Marriage Initiative**

## د طاهری عدالت مرکز د جبري ودونو مخنیوي برنامه

دجبری ودونو مخنیوی برنامه په طاهری عدالت مرکز کښی افتخار لری چی اشخاصوته چی د جبری واده سره مخ دی، د امریکا په متحده ایالاتو کی د هرځای چی وی په محرم ډول مرسته او لارښونه وړاندی کړی. زمونږ خدمات د خطر ارزیابی، خوندی پلان کول، او ستاسی راجع کول هغه موسساتو ته چی په نږدی سیمه کی مرسته کولی شی.

اشخاصو ته چی د جبری واده سره مخامخ دی په مستقیم توګه قانونی وکالت کول او ټولنیز خدمات د طاهری په ساحوی خدماتو کی لکه ورجینیا ، مریلینډ او واشنینګټن ډی سی کی موجود دی.

همدارنګه مونږ تخنیکی مرسته او لارښونه هغو کسانو ته وړاندی کوو چی مرستندویه خدمات وړاندی کوی( قانون پلی کونکی، ښوونځی او پوهنتون کارکونکی، ټولنیز مرستندویان اومدافع وکیلان...) کارکونکی کوم چی د جبری واده سره مخ او یا تیښته کوی.

## مرستی ته اړتیا لری؟

د طاهری عدالت مرکز د جبري ودونو مخنیوي برنامه
د سهار ۹:۰۰ څخه د مازدیګر تر ۵:۳۰ دوشنبی څخه تر جمعی پوری
تیلفون:571-282-6161
ایمیل:FMI@tahirih.org
وبسایت: preventforcedmarriage.org
لطفا زمونږ سره د تلیفون، ایمیل تماس ونیسی او همدارنګه زمونږ د ویب دلاری د ترننګ او ویناوال غوښتنه هم کولی شی.

## په بهر کی خوندی پاتی کیدل

که چیری تاسی د جبری واده څخه تیښته کوی او یا هم ورسره مخامخ یاست نو مونږ تاسی هڅوو چی په امریکا کی پاتی شی. په بهر کی اوسیدل ستاسی حالت ستونزمن کوی او د مرستی امکانات هم کموی. که چیری تاسی فکرکوی چی تاسی د جبری واده سره په یو بل هیواد کی مخامخ شی نو مخکی تردی چی تاسی سفر وکړی زمونږ سره تماس ونیسی او پر موجوده انتخابونو بخث راسره وکړی.

کله چی تاسی بهر ته ولاړشی نو بیا ستاسی امکانات محدود کیږی او یواسانه کار لکه تلیفون کول هم ګران شی. د خارجه چارو وزارت مرسته کولی شی، و لی هغه یوازی د امریکایي تبعو سره مرسته کوی او د هغوی مرسته د هیوادنو پوری هم اړه لری.

که چیری ستاسی دپاره د بهر د سفر پلان نیول شوی، نو تاسی چی کوم چا باندی اعتماد لری د وخت او د ځای په اړوند معلومات ورکړی: د تماس شمیره او موقعیت چی تاسی پکښی اوسیږی، د پاسپورټ معلومات، او ستاسی د پرواز/ او سفر معلومات. که چیری تاسی د امریکا تبعه یاست، نو ځیرکو مسافرانو په نوملړپروګرام کی ځان پدی لینک Https://step.state.gov/stepراجستر کړی، په کوم کی چی د امریکا حکومت ستاسی دسفر د ځای او وخت معلومت حاصل کیږی.

## ستاسی د محرمیت ساتنه

پدی وېوهېږی چی ستاسی ارتباطات څارل کیدی شی پشمول د تلیفون، مسیجونه، ایملونو او انترنت. که چیری څوک ستاسی د مرستی د غوښتنې په اړه وپوهیږی، کولی شی چی تاسی په لوی خطر کې واچوی. مونږ تاسی هڅوو چی تاسی د مرستی د غوښتنې په پټولو سره د ځان ساتنه وکړی.

- تاسی یو نامعلوم ایمیل جوړ کړی چی هیڅوک یې معلومات لاسرسی ونلری چی مونږ د هغه ایمیل دلاری ستاسی سره ارتباط ولرو.
- تاسی هغه ایمیل او تلیفون مه استعمالوی چی کورنیز وی، د یو کریډت کارت لرونکې تلیفون وکاروی او همدارنګه د کتابخانې د کمپیوټر څخه استفاده وکړی.

مونږ ستاسی د محرمیت د ساتلو دپاره یوو چی تاسی وکولی شی ارتباطات په مصون ډول د مرستی د ترلاسه کولو لپاره ونیسی.

## مونږ ستاسی سره د مرستی لپاره یوو

د طاهری عدالت مرکز د جبری ودونو مخنیوي برنامه

طاهری عدالت مرکز: د حقوق مرستی لپاره، تولنیز مرستی، او مصون پلانول، د طاهری عدالت مرکز دجبری ودونو نوښت سره اړیکه ونیسی د سهار ۹:۰۰ څخه د مازدیګر تر ۵:۳۰ دوشنبې څخه تر جمعې پوری.

تبلفن: 5713569491 ایمیل: FMI@tahirih.org
وبسایت: preventforcedmarriage.org
د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت، په بهر کې د اتباعو لپاره خدمات وګورئ. دوی کولی شي په بهر کې له ستونزو سره مخامخ امریکاییانوته مرسته وکړي.
یا په لاندې شمیره د ختیځ وخت د سهار له 8 بجو څخه تر ماښام 8 بجو پورې زنګ ووهئ: 2025014444
بیا 2026474000 ته زنګ ووهئ او وواياست چې تاسو غواړئ د OCS افسر سره خبرې وکړئ.
د مرستې لپاره د متحده ایالاتو نږدې سفارت یا قونسلګرۍ ته لاړشئ. (www.usembassy.gov).

## رضایت او واده

درضایت نشتوال څرنګه په ګوته کیدی شی؟
د رضایت نشتوال د مختلفو فکتورنو او عواملو له امله پیښیدلی شی، په شمول در رضایت د قانونی عمرته نه رسیدل، معیوب کیدل او ناتوانی، یا هم د زور، جعل او اکرا تابع کیدل. دمثال په ډول بعضی کوچینیان د امکان په صورت د واده رضایت لری ولی دوی اکثره وخت د معنا دار او ځواکمن رضایت نشتوالی لری. په واضح ډول واده کول مفکوره هیڅکله رضایت ندی. د رضایت عنصر کې د واده د وخت او عمر انتخاب د طرف د انتخاب پشان مهم دی.

جبر او اکرا څنګه په ګوته کیدی شی؟
کله اکرا او جبر په روحی او احساساتی لحاظ ترسره کیږی، د فامیل له لوری شخص جلا کیږی، او د فامیل رد کیدو تهدید کیږی. همدارنګه د فامیل له لوری د فزیکې وهلو او تهدیت ترسره شی. دا ډول تهدیدونه پرشخص باندی نهایي زیات فشار وارد کوی چی د واده د طرف په انتخاب کې خپله رایه څرګنده کړی او واده کولو ته د نه څواب ووایي.

## تاسی حق لری چی "نه" وواياست

**که چیری زه ۱۸ کلن عمر ونلرم؟**

حتی که تاسی د ۱۸ کلنی عمر ونلری، هیڅوک حق نلری چی تاسی په جبری ډول واده کړی. مونږ هر هغه څوک چی د جبری واده ښکار وی، بغیر ددی چی عمر یې په نظر کې ونیسو هڅوو چی زمونږ سره د مرستی لپاره اړیکه ونیسی.
د یو ماشوم په توګه:

- تاسی وپوهیږی چی مشخص افراد ( ښوونکی او مشاورین) حقوق توګه مکلف او اړ دی چی چارواکو ته د ماشومانو تهدید راپور او خبری ورکړی، کوم چی ممکن ستاسو د والدینو او فامیل اعضاوو سره د بحث لامل شی.
- دمحرمیت په اړه پوښتنه وکړی. تاسی حق لری چی وپوهیږی کوم معلومات چی تاسی شریکوی د کوم اشخاصو سره شریک کیږی.
- تاسی خبرداری ورکړی هغو اشخاصو ته چی ستاسی سره مرسته کوی ستاسی د اندیښنې په اړوند چی تاسی یې لری.



## جبری واده کول څه ته وایی؟

جبری واده کول هغه واده ته وایې چی د طرفینو د پوره او یا نیمګړی رضایت په نتیجه کې رامنځته شوی وی. همدارنګه هغه واده چی ګواښل شوی وی او یا هم ترسره شوی وی. جبری واده د هری طبقې، عمر، مذهب، کلتوری شالید او اقتصادی حالت اشخاصو ترمینځ کیدی شی.

آیا جبری ودونه د ترتیب شوی ودونو سره توپیر لری؟

بلی، په ترتیب شوی ودونو کې د فامیل لخوا د واده د طرف پیدا او انتخاب کیږی، ولی د واده د طرف انتخاب، ځای او اخری فیصله د شخص لخوا ترسره کیږی. په جبری ودونو کې د واده طرفین د انتخاب او نورو موضوعاتو په اړوند د انتخاب حق نلری.

آیا جبری ودونه دلته ترسره کیږی؟
بلی، د جبری ودونو ترسره کیدل په امریکا کې یوه جدی ستونزه ده. یوه ملی سروی چی د طاهری عدالت مرکز لخوا په ۲۰۱۱ ترسره شوی ۳۰۰۰ جبری ودونه چی د مختلوفو مذهبونو او ګروپونو پوری ارتباط لری په ۴۷ ایالتونو کې ګوته کړی دی.

**هرڅوک دا حق لري د ځان لپاره دواده کولو پرېکړه وکړي، کله او له چا سره.**